په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې - وحې پداسې حال کې - نازله شوه، چې هغه د څلوېښتو کالو و

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې - وحې پداسې حال کې - نازله شوه، چې هغه د څلوېښتو کالو و، نو په مکه مکرمه کې ديارلس کاله پاتې شو، بيا ورته د هجرت کولو امر وشو، نو مدېنې ته يې هجرت وکړ، هلته لس کاله پاتې شو، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې: په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د څلوېښت کلن په عمر کې وحی نازله شوه او په پيغمبر ولیږل شو. نو د وحې له نازلېدو څخه وروسته ديارلس کاله په مکه مکرمه کې پاتې شو، بيا ورته مدېنې منورې ته د هجرت کولو امر وشو، هلته يې لس کاله ژوند وکړ، بيا د درې شپېته کالو په عمر وفات شو.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65050